مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۵۴** (از ۲۴ دلو الی اول حوت ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

### آمار بلند تلفات ملکی؛ عوامل و پیام‌ها

- پیشینهٔ تلفات ملکی در افغانستان........ ۴
- تلفات غیرنظامیان (۲۰۰۱-۲۰۱۵)........ ۴
- عاملین تلفات ملکی........ ۵
- تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)........ ۷
- عوامل افزایش تلفات ملکی........ ۸
- واکنش حکومت و طالبان........ ۹

### د سولې خلور اړخيزې ناستې؛ د بريا فکتورونه او مخامخ خبرې

- د مري له خبرو اترو تر څلور اړخيزو ناستو........ ۱۱
- د څلور اړخيزو خبرو اترو لړۍ........ ۱۱
- طالبان او څلور اړخيزې خبرې اترې........ ۱۲
- د څلور اړخيزو خبرو اترو د برياليتوب فکتورونه........ ۱۳

## مقدمه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سازمان دفتر (یوناما) په خپل کلني راپور کې، ۲۰۱۵ کال په تېره کابو یوه‌نیمه لسیزه کې د ملکي وګړو لپاره تر ټولو خونړی کال بللی. که څه هم د افغانستان د جګړې د مرګ ژوبلې په اړه د فعالو داخلي او نړیوالو ارګانونو آمار تر ډېره ریښتینی تصویر نه شي وړاندې کولی؛ خو په اوسني ډول هم د تلفاتو د لوړو شمېرو څرګندونه کوي. په افغانستان کې د تېرو جګړو ستره برخه قربانیان ملکي وګړي دي او د جګړو ښکېل لوري یې ژوند ته د پام وړ پاملرنه نه کوي. په دې تحلیل کې له ۲۰۰۱ کال راهیسې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د وضعیت په اړه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د سولې د څلور اړخیزو خبرو اترو په اړه لولئ. ټاکل شوې چې په روانه اونۍ کې د افغان سولې په اړه د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا د څلور اړخیزو خبرو اترو د لړۍ څلورمه غونډه په کابل کې جوړه شي. که څه هم د دغې لړۍ تېرو دریو غونډو څرګندې پایلې نه لرلې؛ خو له دریمې غونډې وروسته داسې هیلې هم راټوکېدلې، چې ښایي له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې اترې پیل شي. پوښتنه دا ده چې ایا د دغې لړۍ له څلورمې غونډې وروسته به ربښتیا هم له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل شي؟ او کوم فکتورونه دي چې دا لړۍ به بریا ته رسوي؟

په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# آمار بلند تلفات ملکی؛ عوامل و پیام‌ها



دفتر معاونت سازمان ملل متحد برای افغانستان (یوناما)، نهمین گزارش سالانۀ خویش را از تلفات ملکی در افغانستان به تاریخ ۱۴ فبروری ۲۰۱۶ منتشر کرد که واکنش‌های طرف‌های درگیر در جنگ افغانستان را، نیز در پی داشت.

بر اساس این گزارش، سال ۲۰۱۵ خونین‌ترین سال برای افراد ملکی، پس از سرنگونی رژیم طالبان در افغانستان بود. بر بنیاد آمارهای ارائه‌شده در این گزارش، در سال ۲۰۱۵ میلادی ۱۱۰۰۲ فرد ملکی، قربانی جنگ در کشور بودند. همچنان این سال، برای زنان و کودکان نیز نسبت به ۹ سال پسین، سال خونین بوده که در آن تلفات کودکان به ۲۸۲۹ تن و تلفات زنان به ۱۲۴۶ تن رسید.

چگونگی تلفات ملکی در سال‌های گذشته، عاملین تلفات ملکی، نقش گروه داعش در تلفات ملکی و عوامل افزایش تلفات ملکی، مسائلی اند که در این بخش تحلیل هفته به آن پرداخته شده است.

## پیشینهٔ تلفات ملکی در افغانستان

بعد از کودتای کمونستی و حملهٔ شوروی بر افغانستان، تلفات ملکی در کشور افزایش یافت. در جنگ ده سالهٔ شوروی در افغانستان به تعداد ۰.۸۵ الی ۱.۵ ملیون فرد ملکی در افغانستان کشته و در حدود سه میلیون دیگر زخمی شدند.

هرچند سروی دقیقی از تلفات ملکی در زمان جنگ‌های داخلی در افغانستان صورت نگرفته، ولی با آنهم بر بنیاد یافته‌های سازمان ملل متحد، تنها در ماه‌های می الی اگست سال ۱۹۹۲ حدوداً ۱۸۰۰ فرد ملکی در شهر کابل در اثر شلیک راکت و هاوان کشته شده‌اند و بر اساس یک تخمین دیگر سازمان ملل متحد، در سال ۱۹۹۴ تنها در کابل ۲۵ هزار نفر کشته شده‌اند که بیشتر آنها افراد ملکی بودند.[1]

## تلفات غیرنظامیان (۲۰۰۱-۲۰۱۵)

در سال ۲۰۰۱ زمانیکه نیروهای امریکایی و نیروهای ائتلاف حملات خود را به خاک افغانستان آغاز کردند، میزان تلفات افراد ملکی در این سال بلند بود و شمار کشته‌شده‌گان ملکی به ۲۳۷۵ تن می‌رسید. سپس در سال‌های ۲۰۰۲ الی ۲۰۰٦ جمعاً ۲۴۲۲ فرد ملکی کشته شدند.[2] باید گفت که این آمار از طرف اداره‌ی رسمی جمع‌آوری نگردیده بلکه محصول تلاش‌های شخصی از جانب محققین بوده است.

یوناما در سال ۲۰۰۷ آغاز به جمع‌آوری ارقام تلفات ملکی نمود، ولی از لحاظ میتودولوژی علمی، گزارش‌های یوناما در سال‌های ۲۰۰۷ و ۲۰۰۸ با گزارش‌های این نهاد در سال ۲۰۰۹ و سال‌های پس از آن، متفاوت اند.

اگر گزارش‌های یوناما در مورد تلفات ملکی را مطالعه نماییم، با مقایسه و مطالعهٔ ارقام ارئه شده در مورد تلفات ملکی از سوی این نهاد، در می‌یابیم که هر زمانی ناامنی‌ها بیشتر شده و جنگ نیروهای افغان و خارجی با مخالفین مسلح دولت شدت گرفته، تلفات ملکی نیز افزایش یافته است. پس از سال ۲۰۰۷ همه‌ساله (به استثناء سال ۲۰۱۲) میزان تلفات ملکی افزایش یافته است (برای توضیح بیتشر به جدول-۱ مراجعه نمایید). در سال ۲۰۰۷ به طور مجموعی تعداد تلفات ملکی ۱۵۲۳ تن بود، ولی این رقم در سال ۲۰۱۵ به ۱۱۰۰۲ تن رسید.

از ۲۰۰۹ بدین‌سو همه‌ساله تعداد زخمی‌های ملکی افزایش یافته است، ولی میزان کشته‌شده‌گان در سال‌های ۲۰۱۲ و ۲۰۱۵ نسبت به سال‌های دیگر کم‌تر بوده است (برای توضیح بیشتر به جدول-۱ مراجعه نمایید).

[1] See online: https://www.hrw.org/reports/2001/afghan2/Afghan0701-01.htm

[2] Neta C. Crawford, War-related Death, Injury, and Displacement in Afghanistan and Pakistan 2001-2014, Watson Institute For International Studies,

قابل یادآوری است که در این ارقام آنعده از تلفات ملکی که یوناما در مورد قراردادن آن تحت کتگوری تلفات ملکی شواهد کافی ندارد و یا هم مواردی که یوناما به آن دسترسی نداشته است، شامل این گزارش نشده است. همچنان تلفات ملکی ناشی از حملات طیارات بدون سرنشین و یا هم تلفاتی که از طرف نیروهای خارجی به افراد ملکی وارد شده، در این ارقام اضافه نشده است. با این هم، با توجه به ارقام سازمان ملل متحد، از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی، شمار کشته و زخمی شده‌گان افراد ملکی در افغانستان به ٦۲۳۷۵ تن می‌رسد.

### جدول-۱: تلفات ملکی در افغانستان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)

| سال | مجروحین | کشته‌شده‌گان | مجموع |
|---|---|---|---|
| **۲۰۰۷** | - | - | **۱۵۲۳** |
| **۲۰۰۸** | - | - | **۲۱۱۸** |
| **۲۰۰۹** | ۳۵۵٦ | ۲۴۱۲ | **۵۹٦۸** |
| **۲۰۱۰** | ۴۳٦۸ | ۲۷۹۲ | **۷۱٦۰** |
| **۲۰۱۱** | ۴۷۰۹ | ۳۱۳۳ | **۷۸۴۲** |
| **۲۰۱۲** | ۴۸۲۱ | ۲۷٦۹ | **۷۵۹۰** |
| **۲۰۱۳** | ۵٦٦۹ | ۲۹٦۹ | **۸٦۳۸** |
| **۲۰۱۴** | ٦۸۳۳ | ۳۷۰۱ | **۱۰۵۳۴** |
| **۲۰۱۵** | ۷۴۵۷ | ۳۵۴۵ | **۱۱۰۰۲** |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)*

### عاملین تلفات ملکی

گزارش سالانۀ یوناما می‌گوید در یک افزایش بی‌سابقه در چندین سال گذشته، ۳۵۴۵ نفر از غیرنظامیان در سال ۲۰۱۵ میلادی در افغانستان کشته و ۷۴۵۷ نفر آنها زخمی شده‌اند. این‌که مسؤول تلفات تعداد زیاد این افراد ملکی کدام جهت است، گزارش یوناما می‌گوید که طالبان مسئول ٦۲ فیصد و نیروهای افغان مسئول ۱۷ فیصد این تلفات می‌باشند. در حالی که در سال ۲۰۱۴ میلادی ۷۵ فیصد مسئولیت تلفات افراد ملکی به مخالفین مسلح نسبت داده شده بود.

گزارش یوناما در این مورد می‌افزاید که از سال ۲۰۰۷ الی ۲۰۱۴ با گذشت هر سال افراد بیشتر ملکی در حملات مخالفین مسلح دولت کشته و زخمی شده‌اند. در سال ۲۰۰۷، ۷۰۰ تن و در سال ۲۰۱۴، ۷٦۴۳ فرد ملکی در حملات مخالفین مسلح کشته و زخمی شدند. ولی بر اساس گزارش سال ۲۰۱۵، تعداد تلفات ملکی در حملات مخالفین مسلح دولت کاهش یافته و به ٦۸۵۹ تن رسیده است.

بر اساس تعریف یوناما هر کسی که در مقابل دولت می‌جنگد، به شمول طالبان، حزب اسلامی، نهضت اسلامی ازبکستان، اتحاد جهاد اسلامی، لشکر طیبه، جیش محمد، گروه داعش و سایر مخالفین مسلح، در کتگوری مخالفین مسلح دولت شامل می‌شود.

از سوی دیگر میزان تلفات افراد ملکی که از طرف نیروهای طرفدار حکومت افغانستان مورد هدف قرار گرفته، در اوقات مختلف کاهش و افزایش یافته است. میزان این تلفات در سال‌های ۲۰۱۰ و ۲۰۱۲ کاهش یافته، ولی پس از سال ۲۰۱۲ رو به افزایش نهاده است. در سال ۲۰۱۵ در مقایسه به سال‌های گذشته این رقم به اوج خود رسیده است، در این سال نیروهای طرفدار حکومت مسؤول تلفات ۱۸۵۴ فرد ملکی بودند و در کل از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی، بر اساس آمارهای سازمان ملل متحد، عامل تلفات ۹۳۱۴ فرد ملکی نیروهای طرفدار حکومت و عامل تلفات ۴۵٦۵۵ فرد ملکی، مخالفین مسلح دولت پنداشته شده است (برای معلومات بیشتر به جدول-۲ مراجعه نمایید).

**جدول-۲: میزان مسؤولیت حکومت و مخالفین حکومت در تلفات ملکی (۲۰۰۷-۲۰۱۵)**

| سال | تلفات ملکی توسط نیروهای طرفدار حکومت | تلفات ملکی توسط مخالفین حکومت | دیگر |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۷ | ٦۲۹ | ۷۰۰ | ۱۹۴ |
| ۲۰۰۸ | ۸۲۸ | ۱۱٦۰ | ۱۳۰ |
| ۲۰۰۹ | ۱۰۳۵ | ۴۱۲۴ | ۸۰۹ |
| ۲۰۱۰ | ۸۲۴ | ۵۴۲۸ | ۹۱۰ |
| ۲۰۱۱ | ۱۱۰٦ | ۵۸۱۷ | ۹۱۹ |
| ۲۰۱۲ | ٦۰۳ | ٦٦٦۹ | ۳۱۸ |
| ۲۰۱۳ | ۹۸۲ | ۷۲۵۵ | ۴۰۱ |
| ۲۰۱۴ | ۱۴۵۳ | ۷٦۴۳ | ۱۴۳۸ |
| ۲۰۱۵ | ۱۸۵۴ | ٦۸۵۹ | ۲۲۸۹ |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)*

## تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)

با گسترش ناامنی‌ها در کشور که تلفات ملکی افزایش یافته، آمار تلفات زنان و کودکان نیز در این تلفات همه‌ساله رو به افزایش بوده و این خود یکی از بدترین ابعاد جنگ جاری در کشور است.

بر اساس ارقامی که از طرف یوناما ارائه شده، در سال ۲۰۰۷ جمعا ۲۱۷ کودک و ۵۷ زن کشته و یا زخمی شده بودند و این رقم در سال ۲۰۱۵ در مورد کودکان به ۲۸۲۹ تن رسید و در مورد زنان به ۱۲۴۶ تن رسید و به این ترتیب در سال ۲۰۱۵ میلادی تلفات زنان در افغانستان ۳۷ فیصد و تلفات کودکان ۱۴ فیصد افزایش یافته است. از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی جمعاً شمار تلفات کودکان ۱۱۸۶۷ و شمار تلفات زنان ۴۶۱۴ تن بود.  همچنان در تلفات زنان و کودکان شمار مجروحین و جان‌باختگان نیز همه‌ساله رو به افزایش بوده است (برای جزئیات بیشتر به جدول-۳ مراجعه نمایید).

### جدول-۳: تلفات زنان و کودکان در افغانستان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)

| سال | مجروحین اطفال | کشته‌شده‌گان اطفال | مجموع | مجروحین زنان | کشته شده‌گان زنان | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **۲۰۰۷** | - | - | **۲۱۷** | - | - | **۵۷** |
| **۲۰۰۸** | - | - | - | - | - | - |
| **۲۰۰۹** | ۴۲۳ | ۳۰۷ | **۷۳۰** | ۱۵۲ | ۱۳۳ | **۲۸۵** |
| **۲۰۱۰** | ۷۹۹ | ۳۷۸ | **۱۱۷۷** | ۲۰۲ | ۱۶۷ | **۳۶۹** |
| **۲۰۱۱** | ۸۰۴ | ۵۵۷ | **۱۳۶۱** | ۲۴۷ | ۲۰۳ | **۴۵۰** |
| **۲۰۱۲** | ۸۲۱ | ۴۹۲ | **۱۳۱۳** | ۳۵۲ | ۱۹۶ | **۵۴۸** |
| **۲۰۱۳** | ۱۲۰۰ | ۵۶۴ | **۱۷۶۴** | ۵۱۴ | ۲۳۶ | **۷۵۰** |
| **۲۰۱۴** | ۱۷۶۱ | ۷۱۵ | **۲۴۷۶** | ۶۱۱ | ۲۹۸ | **۹۰۹** |
| **۲۰۱۵** | ۲۰۹۶ | ۷۳۳ | **۲۸۲۹** | ۹۱۳ | ۳۳۳ | **۱۲۴۶** |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)*

## عوامل افزایش تلفات ملکی

- **جنگ:** این جنگ است که باعث افزایش تلفات ملکی گردیده است و همواره با گرم شدن جنگ در مناطق مختلف کشور تلفات ملکی افزایش یافته است. یوناما می‌گوید که افراد ملکی بیشترین تلفات را در جریان جنگ متحمل شده‌اند که در درگیری میان نیروهای امنیتی افغان و مخالفان مسلح در جریان سال ۲۰۱۵ میلادی، ۱۱۱٦ تن جان باخته و ۳۰۲۱ تن زخمی شده اند.
- **انفجارات:** عامل عمدۀ افزایش تلفات ملکی در سال گذشته انفجارهای خونین در کابل و سایر شهرهای کشور بود. به عنوان مثال در انفجار خونین شاه شهید کابل ده‌ها فرد ملکی جان باختند و شمار زیاد دیگر جراحت برداشتند که مسؤولیت آن‌را هیچ کسی یا گروهی به عهده نگرفت.
- **گروه داعش:** دانیل بیل رئیس بخش حقوق بشر دفتر معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان، هفتۀ گذشته در یک کنفرانس خبری گفت: «بر اساس یافته‌های یوناما، گروه داعش مسؤول ۸۳ مورد تلفات ملکی بوده که از آن جمله ۸۲ مورد آن تنها در مناطق کوت، اچین و سپین غر ولایت ننگرهار بوده است و در نتیجۀ آن ۳۹ تن کشته، ۴۳ تن زخمی و ۸۲ تن دیگر اختطاف گردیدند.[3]
- **عملیات نظامی حکومت:** گزارش سال ۲۰۱۵ یوناما در مورد تلفات ملکی می‌گوید که در این سال، عامل ۱۷ در صد تلفات ملکی نیروهای طرفدار حکومت بوده. عامل این افزایش، راه‌اندازی عملیات نظامی تهاجمی از سوی نیروهای افغان پنداشته می‌شود.
- **سقوط کندز و حوادث اخیر در بغلان:** با گسترش جنگ به شمال کشور، به خصوص در روزهای سقوط ولایت کندز به دست طالبان، شمار زیادی افراد ملکی کشته و زخمی شدند، ولی در مورد آمار آن سروی و یا تحقیق دقیقی صورت نگرفته است. یوناما در دو هفتۀ گذشته حدود ۲۰ واقعه را در بغلان ثبت نموده که بیشتر آنها در پلخمری، دوشی و بغلان جدید به وقوع پیوسته و این اداره تلفات ۲۷ فرد ملکی را تأیید می‌کند که از این جمله ۷ تن کشته و ۲۰ تن زخمی شده‌اند و دو زن و ۱۳ طفل نیز شامل این تلفات بودند.[4]

[3] See online: https://unama.unmissions.org/release-unamas-2015-annual-report-protection-civilians-armed-conflict

[4] See online: https://unama.unmissions.org/release-unamas-2015-annual-report-protection-civilians-armed-conflict

## واکنش حکومت و طالبان

حکومت افغانستان و طالبان نیز در رابطه به گزارش اخیر یوناما واکنش نشان دادند. ریاست جمهوری و ریاست اجرائیۀ افغانستان بخش‌هایی از گزارش یوناما را رد کرد. یوناما در بخشی از گزارش خود نگاشته است که، تلفات افراد ملکی در اثر حملات زمینی طالبان نسبت به سال گذشته کاهش یافته است. ریاست جمهوری افغانستان با نشر خبرنامه‌ای گفته است که، با تشخیص یوناما در مورد چگونگی کاهش ۴۲ در صد تلفات افراد ملکی از اثر حملات زمینی طالبان موافقت ندارد.

در کنار این، ریاست جمهوری افغانستان همچنان گزارش یوناما را مبنی بر سیزده در صد تلفات ملکی را به هیچ گروه نسبت ندادن، پرسش برانگیز عنوان کرده است. اعلامیه می‌افزاید که طالبان از قوانین بین‌المللی سرپیچی می‌نماید و آن بخش گزارش را مورد انتقاد قرار داده که در آن یوناما کاهش تلفات ملکی از جانب مخالفین مسلح نسبت به سال‌های گذشته ابراز داشته است.[5]

در ادامه عکس العمل‌ها در رابطه به گزارش اخیر، شماری از فعالان جامعۀ مدنی این گزارش را یکطرفه و بر ضد نیروهای افغان خواندند. ولی نیکولاس هایسم نمایندۀ خاص سرمنشی سازمان ملل متحد در افغانستان در هنگام نشر این گزارش ادعا کرده بود که بخاطر جمع‌آوری ارقام از سیستم‌های پیشرفته استفاده کرده بودند و قبل از نشر، این گزارش را با گروه‌های درگیر شریک ساخته بودند.

از جانب دیگر، طالبان نیز این گزارش را یک‌جانبه خوانده و آنرا رد نموده است. ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان در اعلامیه‌ای گفته است: «این گزارش یک‌جانبه، تبلیغاتی و به اشارۀ نیروهای اشغالگر آماده شده است».[6]

---

5 See online: http://president.gov.af/fa/news/66833

[6] See online: http://alemara1.org/?p=41444

# د سولې څلور اړخیزې ناستې؛ د بریا فکتورونه او مخامخ خبرې




د ۲۰۱٦ کال د فبرورۍ په ۲۳مه به د سولې د څلور اړخیزو خبرو اترو څلورمه غونډه په کابل کې جوړه شي. له دې وړاندې د دې لړۍ له درېیمې ناستې وروسته داسې هیلې راوټوکېدې، چې د فبرورۍ تر پایه به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې اترې پیل شي.

په بل اړخ کې څو ورځې وړاندې د پاکستان لومړی وزیر نوازشریف، قطر ته په یوه دوه‌ورځنۍ سفر ولاړ او همدا راز د پاکستان په رسنیو کې داسې خبرونه هم خپاره شول، چې ګواکې د طالبانو د قطر دفتر مشر شیر محمد عباس ستانکزي او د دغه دفتر غړي قاري دین محمد حنیف د سولې د درېیمې څلور اړخیزې ناستې پر مهال اسلام‌آباد ته سفر کړی و. له همدې ځایه ده، چې په کابل او اسلام‌آباد کې یو شمېر خلک له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو د پیل په اړه هیله‌من برېښي.

دا چې په تېر میلادي کال کې د مري د خبرو اترو او اوسنیو څلور اړخیزو ناستو ترمنځ ښکاره توپیر څه دی، د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب فکتورونه کوم دي او آیا رېښتیا هم د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې اترې پیلېدونکې دي؟ دلته پرې شننه کوو.

## د مري له خبرو اترو تر څلور اړخيزو ناستو

که په يوه جمله کې د سولې په تړاو د اشرف غني هڅې بيان کړو، نو په اسلام‌آباد کې د مري له غونډې تر اوسنيو څلور اړخيزو خبرو اترو پورې بيانېدای شي. د مري خبرې اترې وروسته له هغه ترسره شوې، چې افغان ولسمشر پکې پاکستان ته امتيازات ورکړل او د سولې لپاره يې پر پاکستان تکيه زياته کړه؛ خو د ملا محمد عمر د مرگ له اعلانېدو سره دغه پروسه شنډه شوه.

شپږ مياشتې وروسته، د نړيوالو او سيمه‌ييزو هېوادونو په هڅونه د څلور اړخيزو خبرو اترو تر چتر لاندې د افغان سولې په اړه بيا خبرې اترې پيل شوې. دغه خبرې اترې د مري له پروسې سره له دې کبله توپير لري، چې دا ځل به د دواړو لوريو ژمنې دوه ځواکمن هېوادونه (امريکا او چين) تضمين کړي.

## د څلور اړخيزو خبرو اترو لړۍ

د څلور اړخيزو خبرو اترو لومړنۍ ناسته د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په مياشت کې وشوه او د څلور اړخيزې همکارۍ ډله يې جوړه کړه، چې دوی بيا خپله لومړنۍ ناسته د جنورۍ په ۱۱مه په اسلام‌آباد کې، دويمه ناسته د جنورۍ په ۱۸مه په کابل کې او درېيمه ناسته د فبرورۍ په ٦مه نېټه په اسلام‌آباد کې وکړه او ښايي څلورمه ناسته به د فبرورۍ په ۲۳مه بيا په کابل کې وکړي.

د څلور اړخيزو خبرو اترو په لومړۍ ناسته کې ټولو خواوو د جگړې پر پای ته رسولو توافق وکړ او د گډې اعلاميې له مخې يې د جگړې په اړه وويل، چې جگړه يوازې «بې‌معنا» تاوتريخوالی زيږوي. د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ پر مخامخ خبرو اترو ټينگار وشو او همدا راز د څلور اړخيزې ډلې د کاري شرايطو وضع کول يې بل مهم کار و.[7]

د دويمې ناستې موخه تر ډېره له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په اړه تگلاره جوړول وو. که څه هم تر اوسه پورې د دغې تگلارې په اړه تفصيلي معلومات نه دي شريک شوي.[8]

---

[7] د څلور اړخيزې همکارۍ ډلې د لومړۍ ناستې په اړه، د دغې ډلې گډه اعلاميه، د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت په وېبپاڼه کې وگورئ:
http://mfa.gov.af/en/news/joint-press-release-quadrilateral-coordination-group-meeting-of-afghanistan-china-pakistan-and-the-united-states

[8] د څلور اړخيزې همکارۍ د دويمې ناستې په گډه اعلاميه کې په دې اړه داسې راغلي وو:

The roadmap aims to set specific measures that are necessary for creating a conducive environment for the commencement of Afghan led, Afghan owned peace talks between representatives of the Government of Afghanistan and representatives of Taliban groups aimed at reduction of violence and establishing lasting peace in Afghanistan and the region

د دويمې ناستې د بشپړې اعلاميې لوستلو لپاره لاندې لينک ته ټک ورکړئ:
http://mfa.gov.af/en/news/joint-press-release-the-second-meeting-of-the-quadrilateral-coordination-group-qcg-of-afghanistan-pakistan-the-united-states-and-china

د دې لړۍ په دریمه ناسته کې، د څلور اړخیزې همکارۍ ډلې د سولې په اړه یوه تګلاره جوړه کړه، چې له مخې به یې افغان سوله د افغانانو په مشرۍ پرمخ ځي او د نورو هېوادونو رول به تر آسانچارۍ پورې محدود وي.

## طالبان او څلور اړخیزې خبرې اترې

د څلور اړخیزو خبرو اترو له دوو غونډو وروسته، افغان طالبانو هم د پګواش په غونډه کې د سولې په تړاو خپل دریځ روښانه کړ او د سولې خبرې اترې یې له لاندې څلورو ټکو سره وتړلې:

1. د طالبانو د قطر دفتر ته د کار کولو اجازه ورکول؛
2. د بندیانو خوشې کول؛
3. د طالبانو پر مشرانو د سفر بندیزونه لرې کول؛
4. او د دوی پر ضد پروپاګند بندول.

که څه هم د پګواش په ناسته کې اشرف غني طالبانو ته د سولې د خبرو اترو شین څراغ ورکړ؛ خو لا تر اوسه کابل له افغان طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په لوري ګام نه دی اخېستی.

دا چې له افغان طالبانو سره به دغه مخامخ خبرې اترې چېرته کېږي، مهمه موضوع ده. داسې برېښي چې افغان طالبان به په افغانستان او پاکستان کې دا ډول خبرو ته زړه ښه نه کړي. که په چین کې دا ډول خبرې کېږي نو دلته بیا پر طالبانو د سفر د بندیزونو خبره راځي، چې باید افغان حکومت او امریکا ورته پاملرنه وکړي. البته په قطر کې هم په دا ډول خبرو اترو فکر کېدای شي؛ خو په دې اړه داسې احتمال هم شته دی، چې هلته به بیا افغان حکومت زړه ښه نه کړي.

افغان طالبان هغه مهال مخامخ خبرو اترو ته حاضرېدای شي چې د څلور اړخیزو همکاریو ډله، د خبرو اترو لپاره مخامخ د طالبانو د قطر له دفتر سره په تماس کې شي. که څه هم له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره ځای نه دی ټاکل شوی؛ خو که د قطر دفتر استازي په دغو خبرو کې ګډون کوي نو قوي احتمال به دا وي، چې دا خبرې په قطر کې وشي او یا هم له پاکستان او افغانستان پرته په کوم بل ځای کې. طالبانو ته به په بل ځای کې د خبرو اترو ګټه دا وي، چې له خپلو مشرانو به یې د سفر بندیزونه لرې کړي وي.

## د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب فکتورونه

د څلور اړخیزو خبرو اترو بریالیتوب په ټولیز ډول په لاندې مهمو ټکو راڅرخي:

- **د طالبانو د استازیتوب قضیه:** د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب تر ټولو غټ ټکی دا دی، چې له افغان حکومت سره د طالبانو کوم استازي خبرو اترو ته حاضرېږي، باید په ریښتینې ډول د طالبانو استازیتوب وکړای شي. که چېرې په دغو خبرو اترو کې د طالبانو د قطر دفتر استازي او د رهبرۍ شورا هغه غړي ونډه وانخلي، چې د پریکړو صلاحیت لري او یا هم په سمه توګه د ملا اختر محمد منصور ډله پکې برخه وانخلي، نو د دغو خبرو اترو پایلې به هم د هغو خبرو اترو په څېر شي، چې د حامد کرزي په دوره کې له مختلفو لوریو سره وشوې. د اوسنیو ځمکنیو حقایقو له مخې، د طالبانو همدا ډله تر ټولو ځواکمنه او په ټوله کې د ټول تحریک (طالبانو) استازیتوب کولای شي.
- **تر زور لاندې نه وي:** دویم مهم فکتور دا دی، چې د سولې دغه خبرې اترې باید د فشارونو او زور تر چتر لاندې ترسره نه شي؛ ځکه تر زور لاندې خبرې اترې موقتي ګټې لرلی شي؛ خو په اوږدمهال کې ګټورې نشي ثابتېدای. که څه هم د مري په خبرو اترو کې د طالبانو لوړپوړو چارواکو برخه واخیسته؛ خو پایلې یې ګټورې نه وې او له کبله یې په هېواد کې جګړه نوره هم توده شوه او د کندز ښار پکې سقوط وکړ. غټ لامل یې دا و، چې دغه خبرې اترې د زور له کبله او خپله د افغان طالبانو په اند د «چل» له مخې وې.
- **موخه د طالبانو وېشل نه وي:** که چیرې د څلور اړخیزو خبرو اترو موخه یوازې دا وي، چې له هغه چا سره چې خبرو اترو ته حاضرېږي، خبرې وشي؛ په حکومت کې جذب کړای شي او په دې توګه د طالبانو پاتې ډلې وځپل شي او یا یوازې پاتې شي، نو دغه تګلاره هم موقتي ګټې لري؛ ځکه په تېرو ۱۵ کلونو کې افغان حکومت دغه تګلاره څو ځله عملي کړې، چې تر اوسه یې تر ډېره ښه ثمره نه ده لرلې.
- **د نورو له ګټو څخه زیاتې افغاني ګټې پکې خوندي شي:** په دغو خبرو اترو کې دري بهرني هېوادونه هم دخیل دي او افغان لوري پکې طالبان او افغان حکومت دي. که چیرې په دغو خبرو اترو کې د افغانانو په پرتله د نورو لورو ګټې ډېرې خوندي شي، نو دا به هم یوه اوږدمهاله سوله په منفي ډول اغېزمنه کړي.

- **ټول دخیل لوري پکې ګټیالي شي:** د څلور اړخیزو خبرو اترو بریالیتوب په دې کې دی، چې ټول دخیل لوري پکې ځانونه ګټیالي وبولي؛ یو لوری هم پکې ځان داسې ونه ګڼي، چې په خبرو اترو کې بایلونکی دی.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.